# بیاض ژوند او حالات

# Life and Circumstances of Bayaz

Zar Muhammad Sangar [1], Abaseen Yousafzai [2]

Muhammad Bayaz sahib is a great poet of Pashto yet, there is less critical analysis regarding his life, work, period and class. This article aims at provision of sufficient proofs and evidences of his life, work, period, as well as a streamlined analysis of his poetical class. He belongs to tribe of Gadoon (Jadoon) and then his forefathers migrated to Zaida (Swabi). He was the followers of great sufi, thinker and reformer Mian Muhammad Umar Chamkani.

بیاض هم لکه د پښتو د کلاسیک شاعرانو غوندې هغه نوم ورکے شاعر دے. چې د ژوند حالات ئې لا سل په سله نهٔ دي معلوم. چې دے په کوم کلي کښې پيدا شوے دے. کله پيدا شوے دے. شاعري ئې کله نه شروع کړې ده. د مسافرۍ ذکر ئې کړے دے. چې دے کوم کوم ځائے او چرته چرته پاتې شوے دے. په شاعرۍ کښې ئې د چا نه زيات اثر اخستے دے؟

دا داسې سوالونه دي چې زمونږ ځينې ليکوالو پخپلو ليکونو کښې دې اړخ ته څهٔ واضحه او څهٔ مبهمې اشارې کړې دي. خو د ژوند حالات او نور واقعات ئې لا پوره رڼا ته شوې نهٔ دي.

دهٔ پخپل کلام کښې د جدون (ګدون) ذکر کړے دے. او بيا په تېره تېره د "زېدې" او د "اباخېلو" ذکر ئې هم کړے دے. او په مسافرۍ کښې ئې د "پېښور" او "دکن" ذکر هم شته.د دهٔ د کور،ورور، عزيز، اولاد او ميراث دا هغه خبرې دي چې دا به څهٔ د هغه زمانې د معروضي حالاتو او څهٔ د هغوي د داخلي واقعاتو يعنې د ديوان په رڼا کښې بيانوؤ.

بياض پخپل کلام کښې خصوصاً د څوکنو د ميا عمر صېب ذکر ډېر په کثرت سره کړے دے. او زمونږ زيات تر شاعران هم دغه استانې سره تړلي دي. د محمدي صاحبزده اثر زمونږ د ډېرو شاعرانو په کلام کښې واضحه برېښي. د دغې اثر نه زمونږ شاعر بياض هم بې اثره نهٔ دے پاتې شوے. د

1 Lecturer in Pashto, Islamia College Peshawar.
2 Chairman Pashto Department, Islamia College Peshawar

بیاض په دیوان کښې ډېر داسې غزلونه شته. چې په هغې باندې د خوشحال خان خټک، رحمان بابا، حمید بابا او په تېره تېره د علي خان ډېر زیات اثر بلکې توارد پکښې راغلے دے. لکه څنګه چې د علي خان په شاعرۍ د حمید بابا ښکاره اثر شوے دے. هم دغه شان د بیاض په کلام د علي خان اثر یا دې دوارړو د یو پل نه اثر اخستے دے. دا ذکر خو به وروستو په تفصیل سره وکړو. د ټولو نه وړومبې د بیاض د کلي،نسب او ځاے ځائیګي اندازه لګوو.په دې بابله د بیاض د دیوان مرتب او مؤلف مولوي محمد ایوب صاحب د ګنډېرو شریف کهوئي برمول مردان چې په کال ۱۹۵۸ء کښې ئې د بیاض دیوان چاپ کړے دے لیکي چې:

"د صاحب کتاب د نوم پوره پته نۀ لګي بیاض ئې تخلص معلومېږي او دا هم کیدے شي چې دا ئې اسم محضه وي. ځکه چې یو ځاے کښې ئې وئیلي دي.

مسافر محمد بیاض سره څۀ نشته
په نخاس کښې خرڅوې سر ئې در زار شه

د دې زنده دل شاعر کلے زیده دے وائي:

بې د غمه دې هوس نیشته بیاضه
پس له دې دې په زیده کښې تمام سېر شه
د بیاض طاعونے رنځ چې د زړۀ مل شه
ځواني مرګ به اخر لاړ شي له زیدې

یو بل ځاے وائي:

د خپل یار په مینه سر شینده بیاضه
اباخېل د نامړدانو وطن نۀ دے 1

همدا شعر ئې په دیوان کښې په صفحه ۱۳۷ ذکر کړے دے

په دې بابله په " تېر هېر شاعران" کښې قاضي عبدالحليم اثر افغاني صيب هم داسې ذکر کړے دے. خو داسې برېښي چې همدغه شعرونه چې کوم د بياض د ديوان مؤلف په کوم ترتيب سره ليکلي دي. همدغه ترتيب ښاغلي اثر صيب هم راغستے دے. لکه چې اثر صيب ليکي:

"د دهٔ پوره نوم محمد بياض دے د صوابۍ په زېده نومې کلي کښې اوسېدهٔ. او په قام جدون وو. د خپل نوم، خپل کلي او قام قبيلې په حقله په خپله وائي:

مسافر محمد بياض سره څهٔ نشته
په نخاس که ئې خرڅوې سر ئې در زار شه
بې له غمه دې هوس نېشته بياضه
پس له دې په زېده کښې تمام سېر شه
د بياض تاوـے رنځ چې د زړهٔ مل شه
ځواني مرګ به اخر لاړ شي د زېدې
د خپل يار په مينه سر شينده بياضه
ابا خېل د نامرادانو وطن نهٔ دے
که پوښتنه څوک زما د نسب کاندي
زهٔ په اصل يم جدون د پلار له جده

د جدون علاقې ته مقامي لهجه کښې "ګدانه" وائي. ګدون نومې قوم د زېدې نومې .... او د اباخېل نومې علاقې سره په شمال مشرقي پوله اباد د عمر خېلو او ابا خېلو په مېنځ کښې هم راغلي دي. او اباد شوي دي. اګر چې دا پوره نهٔ ده معلومه چې زېدې ته محمد بياض پخپله راغلے وو که پلار ئې راغلے وو. ليکن غالب ګمان دا دے چې دے پخپله راغلے وو. لکه چې د دې شعر نه ئې قياس کېدلے شي وائي:

د بياض که خداے نصيب وي پکښې کړے
د اختر په ورځ به ځي د پلار زيارت له 2

ځنګه چې د دیوان بیاض مؤلف په زېده کښې د خان خېلو د کورنۍ ذکر کړے دے. او د عبدالعزیز خان ذکر ئې کړے دے. چې د دوي په نیکونو کښې یو خان اشرف خان هم تېر شوے دے. چې بیاض د هغه سره مېشته وو. او بیا د هغهٔ نه په څهٔ خبره مرور شوے هم وو.

مرهٔ ژوندي ورپسې واړه افسوس کاندي
چې بیاض د اشرف خان نه مرور لاړ

په زېده کښې اوس هم ابا خېل شته او خانان پکښې هم شته. دغه عبدالعزیز خان بابا چې د خدائے خدمتګار تحریک په سرخېلو کسانو کښې شامل دے. دے د زېدې د سخي ارسلا خان نمسے وو. او غالب ګمان دے چې دا اشرف خان د هغوي نیکهٔ وهٔ. ځکه چې په زېده کښې اوس هم دغه خانان شته. د دوي په اولاد کښې هم یو خان عبدالوحید خان چې په دې وخت کښې د پښتو څانګې پېښور یونیورسټۍ چئیرمین دے. دا پښتنې راقم د هغوي نه پخپل ځاني کړې دي.

ډاکټر محمد زبیر حسرت هم چا چې د علي خان ژوند، فن او فکر لټون او سمون کړے دے. د بیاض په حقله لیکي:

"دا خبره دې هم یاده وي چې ښاغلے بیاض په قبیله جدون وو. ډېره موده ئې په زېده (صوابۍ) کښې تېره کړې وه. او بیا چرته لرې ډېره شوے دے. دا لرې ځائے اټک نه پورې د هندوستان یو مقام هم کېدے شي چې بیاض ئې خپله شاعرۍ کښې ذکر کړے دے."3

په دې پورتنې اقتباس چې موصوف ډاکټر صیب د بیاض په هندوستان کښې د پاتې کېدو او مقام په بابله کوم قیاس کړے دے. دغه قیاس یقیني درست دے. ځکه خو بیاض د یو شعر نه دا خبره واضحه ده. چې هغه د هندوستان په "دکن" ښار کښې هم پاتې شوے دے. لکه چې وائي:

توره بریره کړه بیاض په وطن سپینه
د خپل یار له جوره ځي ځائے ئې دکن شه
(دیوان ص ۱۱۸)

اوس دا خبره لږه نوره هم مخ په وړاندې بوځو. چې زمونږ دا شاعر بیاض پخپله یا د ده پلار نیکه د جدون (ګدون) نه زېدې ته راغلي وو. خو اوس دا معلومول دي. چې جدون کښې د ے د کوم کلي اوسېدونکے وو. ځکه چې په جدون کښې خو ډېر کلي دي. نو د دۀ د کلي په حقله ضیاء الله جدون په خپل اردو کتاب "شخصیات صوابي" کښې لیکي:

که پښتنه څوک زما د نسب کاندي
زۀ په اصل یم جدون د پلار له جده

ترجمه: د هغوي تعلق د ګدون، علاقې د دېول کلي سره وو. فیض ګدون ته په کال ۱۹۹۸ء کښې عبدالله بختاني افغاني وئیلي وو چې بیاض جدون د دېول اوسېدونکے وو. او د هغۀ د لاس لیکلې نسخه د هغۀ سره په افغانستان کښې پرته ده. بیا زېدې ته راغے او اباد شۀ . څۀ وخت پورې په دکن "هند" کښې هم پاتې شه. د دولسمې صدۍ هجرۍ لوې شاعر وو. د څوکنو د میا صېب عقیدت مند وو. د هغۀ د ژوند تفصیلي حالات قاضي عبدالحلیم اثر افغاني په تېر هېر شاعران کښې درج کړي دي. په غزل کښې ئې ساري نۀ لرلو. د هغۀ بیان ساده او له اثره ډک وو. پروفېسر افضل په "پټ ستوري" کښې د هغوي کلام لیکلے دے. چې د پېښور پوهنتون د پښتو اکېډمۍ کښې په یوه قلمي نسخه کښې لیکلے پروت دے.

زړۀ مدام راته خبرې د اشنا که
نوې نوې اندېښنې راته پیدا که 4

د بیاض دیوان خو په ورومبي ځل مولوي محمد ایوب په کال ۱۹۵۸ ء کښې چاپ کړے دے. او په دوېم ځل سر محقق عبدالله بختاني خدمتګار په کال ۲۰۰٤ء کښې چاپ کړے دے. د کومې قلمي نسخې ذکر چې بختاني خدمتګار صېب فیض ګدون ته په کال ۱۹۹۸ء کښې کړے وو. چې هغه دۀ ته ئې د فیاض کلے دېول ښودلے وو. هغه خو تشه د وائي خبره وه. اوس له خبره هغه دیوان په چاپ شکل کښې موجود دے. ډاکټر محمد زبیر حسرت صېب د علي خان ژوند فن او فکر کښې لیکي:

د بیاض دیوان په دوېم ځل سر محقق عبدالله بختاني خدمتګار د خپلې مقدمې سره مرتب کړے دے. چې اوس هم پکښې زما په خیال ډېرې زیاتې کمې محسوسېږي. او د یوې بلې تحقیقي مقالې متقاضي دے. دغه دیوان دانش کتب خانې قیصه خوانۍ پېښور په اپرېل ۲۰۰٤ء کښې چاپ کړے دے.5

لکه څنګه چې وړاندې هم د بیاض دا شعر ذکر شوے دے چې :

که پوښتنه څوک زما د نسب کاندي
زۀ په اصل یم جدون د پلار له جده
دیوان ص ۵۷

جدون یا ګدون دا کوم خلق اوکومه قبیله ده. او د کوم ځاے نه راغلي دي. دوي ته جدون یا ګدون ولې وئیلے کېږي.

د پښتو نامه ئې خپله ده ګدون
په وېنا کښې بعضې وائي ورته جدون 6
(حېدر زمان جدون پابیني)

ترجمه: جدون/ ګدون

"د دې قبیلې جدِ امجد جناب اشرف خان جدون دے. چې غالباً د څوارلسمې صدۍ په شروع یا د دیارلسمې صدۍ په اخر کښې تېر شوے دے. هر کله چې د پنځلسمې صدۍ په وروستۍ یا د شپاړسمې صدۍ په شروع کښې چې هر کله د هغوي اولاد د افغانستان نه هجرت وکړو. او دلته راغلل. نو دغه وخت ئې د قبیلې شکل اختیار کړے وو. نو ځکه دا وئیل به بې ځایه نۀ وي. چې د هجرت په وخت د ګدون قبیلې شکل اختیار کړ ےوو. نو خامخا به د یوې صدۍ نه زیات وخت تېر شوے وي. نور الله عالم دے"7

جدون د قېس عبدالرشيد په اولاد کښې راځي. دې خلقو د افغانستان نه هجرت کړے دے. او دې خوا راکوز شوي دي. لکه څنګه چې نور عام پښتانۀ را کوچېدلي دي ښاغلي ضياء الله جدون په خپل اردو کتاب "تاريخ وادي ګدون" کښې د مخزن افغاني صفحه نمبر ٤٦٥ په حواله د هغوي د نسب سلسله او شجره څۀ دا رنګ درج کړې ده 8.

1. قېس عبدالرشيد
    1. غر غشت
        1. ناغر
        2. دادي (وادی)
        3. کاکړ
        4. پني
            1. موسیٰ يهودا
                1. بتهان
                    1. اسماعيل تولي
                        1. سلکانري
                            1. عمرزئي
                            2. جدون
                            3. صافي
                            4. سليمان کتيار

بل ځاے کښې هم په دغه کتاب "تاريخ وادي ګدون" کښې ئې د ګدون شعراء د عنوان لاندې د نولس شاعرانو ذکر کړے دے. خو د بياض ذکر ئې په دغه شاعرانو کښې نۀ دے کړے. د دغه شاعرانو نومونه دا دي:

"سید خان جدون، طاؤس شاه ګدون، حېدر زمان جدون، احمد خان ګدونوال، لعل محمد بهار، بابر جدون، یوسف خان سائل، جمشېد وصال، غلام نبي، شوکت علي سجاد، عجب خان جدون، شعېب جدون، اکبر خان ثاقب، شاهجهان استاذ، امین جان استاذ، خادم النبی خادم، سر بلند خان جدون، ګل بلند خان جدون، ګل زمان ګړندے۹"

مونږ ته د بیاض په دیوان کښې د داخلي شهادتونو نه دا خبره په ډاګه کېږي. در په در خاورې په سر ئې د پردیسۍ او مسافرۍ ژوند تېر کړے دے. نۀ خو ئې د وادۀ پته لګي چې وادۀ ئې کړے دے او که نه خو د بې اولادۍ، کور، ورور، میرات او میراث په بابله ئې په خپل کلام کښې دا غم ژړلے دے.د خپلې بې اولادۍ او میراث خورۍ په حقله وائي چې :

د بیاض څوک بېرته خبر د خېرات نشته
خدائے زده چاته چې به پاتې شې میراته
( ص ۵۳)

چې ورومبے ماښام دې اوکاندي بیاضه
څوک دې نشته د دعا هسې میرات ئې
(ص ۵۲)

د کلام نه ئې دا اندازه لګي چې کور او جائیداد که ئې نه وو. نو نغدې پېسې ورسره لږ ډېرې وې. چې خپل ځان له به ئې د ګور کفن دپاره ساتلې وې. پردېس سره سره ئې د خپلې پیرۍ او سپینې برېرې غم هم ژړلے دے. دغه ذکر خو به پخپل ځائے راشي. خو د خپل میراث په حقله وائي:

څوک ئې نیشته چې میراث ئې سره ویشي
د بیاض په مرګ موقوفه ډمامه ده
(ص ۱۱۲)

بیاض خپل کلام کښې د پلار ذکر کړے دے. چې چرته ډېر وړاندې وفات شوے دے. ځکه چې د والد صېب د قبر زیارت له ئې د اختر په ورځ د تلو نیت کړے دے. اکثر خلق غم ښادۍ او اختر شوقدر ته د مسافرۍ نه کور کلي ته راځي. اوس هم ځنې خلق د اختر په ورځ د خپلو مشرانو او والدینو د قبرونو زیارت ته د دعا دپاره ځي. لکه چې وائي:

د بیاض که خدائے نصیب وي پکښې کړے
د اختر په ورځ به ځي د پلار زیارت له
(دیوان ، ص ۸۵)

خو د دې نه علاوه ئې نۀ ورور، خور او عزیز شته. دا هم امکان لري. چې دا شعر ئې د مسافرۍ په اوان کښې وئیلے وي. ځکه چې اکثر شاعري ئې د مسافرۍ په دوران کښې کړې ده. خو بیا هم داسې برېښي چې څوک ئې نشته. ځکه خو وائي:

زۀ له خپله سره تېر یم په دا څۀ شو
عزیزان که یار اشنا که ورور مې نشته
(دیوان ، ص ۱۱۳)

او د کور په بابله هم په دغه غزل کښې وائي :

عالم واړه کور راکور راغے ماښام شو
زۀ بیاض په لار کښې ناست یم کور مې نشته
(ص ۱۱۳)

دا پورتنې شعر خو ئې په مسافرۍ کښې وئیلے دے. ځکه چې د خپل وطن اباخېلو، جدون، زېدې او خپل کور ذکر هم کړے دے. خلق به اکثر مزدورۍ پسې هندوستان ته تلل. لکه اوس چې څۀ رنګه زمونږ خلق سعودي عرب، اماراتو، دوبۍ او یورپ ته ځي. زمونږه د پښتنو په کلاسیک شاعرۍ او خصوصاً په ټپه کښې د هندوستان ډېر ذکر شوے دے. لکه چې یوه معشوقه خپل عاشق ته وائي:

هندوستانـــــــــــــے شه روپۍ راوړه
په کورنو روپو مې مور نه درکوينه

او دغه شان نورې بې شمېره ټپې دي نو بياض هم چې کله د هندوستان "دکن" نه واپس خپل کلي کور ته را روانېږي. نو ملګري دوستان ورته وائي . چې کله خپل کلي کور او وطن ته ورسې نو مونږ ته واپس د خېر خېرت خبر راواستوه. ځکه چې دغه پياده مزلې به خلقو په هفتو او مياشتو کولې. دغه حالت بياض داسې بيان کړے دے. دې نه د دۀ د وطن او کور اندازه لګي:

د خېريت خبر بيا راستوه بياضه
چې داخل په خپل وطن او په خپل کور شې
(ص ۱٤۱)

خپل اشنا ئې هم چرته په سفر تلے وو. چې خپل کلي ته واپس راغلے دے. خو دۀ سره ئې عليک سليک نۀ دي کړي . دغه حالت په يوه رباعۍ کښې داسې بيانوي.

په سفر تلے اشنا راغلے دے
تو برے د غم مې د زړۀ وتلے دے
عليک سلام ئې راسره ونکړو
ښنبتن دې خېر کړې چې په ښۀ غلے دے
(ص ۱٤۹)

اشرف خان د کوم ذکر چې مونږ د زېدې د خانانو د کورنۍ د يو مشر په حېث کړے دے. او که نه چرته د بل دوست نوم ئې هم اشرف خان دے. خو غالب ګمان دے چې هم دغه خان اشرف خان يادوي. چې دے ترېنه خفه او مرور تلے دے.

چې بياض دبيلتانۀ سرو پا واغست
تر کابله تر کشميره دا خبر لاړ
مړ ژوندي ورپسې واړه افسوس کاندي

چې بیاض د اشرف خانه مرور لاړ
(ص ۷۲ )

داسې ښکاري چې دے ئې بیا رضا کړے دے او واپس ئې خپل کلي ته راوستے دے. خو بیا ئې چرته په مینځ کښې خفګان پیدا شوے دے او دۀ ورته د یاد دهانۍ په طور بیا وئیلي دي چې :

د بیاض قدر به هله تا له درشي
که استوګنه کاندي بیا په پېښور کښې
(ص ۸۱)

بیاض یو عالم فاضل سړے وو د دین او فقهې علومو نه بهره ور وو. په قرآني علومو ئې هم ښۀ دسترس لرلو.

په فرمان کُن فیکون سره دا واړه
هر اشیاء که خدائے پیدا له دې ایاته
په هر حرف چې دې حرفونه د قرآن دي
بله بله مرتبه ده درجاته
لم یلد و لم یولد چې لاشریک دے
دا معنې دےد ایات د ستا له ذاته
(ص ١٢٤)

د اثر صیب دغه دعوۍ مونږ نوره هم مضبوطول غواړو. او د دې ثبوت مونږ سره د هغه په دیوان کښې شته . چې دلته هغه په جمات(مسجد) کښې پېښ امام وو او په روماني انداز کښې د خپل محبوب د اننګو حُسن او خوند ستائي او وائي.

ستا د سرو اننګو خوند زما تر خولې شه
ځکه پاتې رانه کار د مُلایۍ دے
د بیاض پکار دولت نۀ دے اے یاره

ستا په کلي کښې اوس خوبش په ګدایۍ دے
(ص ١٤٠)

بیاض پخپل دیوان کښې په یو دوه شعرونو کښې د "مُخه ویشتل" ذکر کړے دے. دې ته ځنې خلق موخه هم وائي. دا خالص د یوسفزو لوبه ده. چې اوس هم په ګندف، زیده، مرغز، کلابټ، باجا، بام خېل او ټوپۍ خواوشا کلو کښې کېږي. کله چې یوسفزي مغلو سره برسیر پېکار وو. نو دا د جنګ یو قسم له ټریننګ او پرېکټس وو. په دې کښې به د غشي لیندې استعمال کېدو. په دغه کلیو کښې اوس هم د دې باقاعده په کال کښې یو ځل نیم ټورنامنټ کېږي. چې د تپه اتمان او ګدون ټول کلي پکښې برخه اخلي. بیاض په دې بابله وائي.

لکه مخه په سینه چې ویشت شم
چې زنګون راته وهي د لیندو ډله
(ص ١٢٢)

هم د دې پورتني شعر دا وړومبۍ مصرعه ئې د یو بل غزل په یو شعر کښې همدغه شان راوړې ده.

لکه مُخه په سینه چې ویشت شم
مخامخ راته ولاړ ډکه درسته دے
(ص ١٣٤)

د بیاض په دیوان کښې د دۀ خپل نوم او تخلص نه پرته څۀ داسې غزلې شته چې هغه د بل چا په نومونو دي.

"په کتاب کښې د حمید، سلیم، صدیق، احمد شاه وغېره شعراؤ د کلام نه دوه څلور غزلې منتخب شوي دي. لیکن هغه د کاتب درشخاتو قلم نتیجه معلومېږي"
10

اوس د دیوان نه هغه شعرونه د ثبوت په توګه وړاندې کوو. په کومو کښې چې دغه تخلصونه راغلي دي. خو د دغې نه علاوه په دیوان کښې یو بل تخلص د " محمد" په نوم دوه ځایه راغلے دے لکه:

زهٔ محمد ترې بهر مند یو ځله نهٔ شوم
ورېم به ګور لره ارمان د تورو زلفو
(ص ، ۱۰۷)

په رو رو ترې ځان خبر کاندي له حاله
بېلتانهٔ د محمد خاطر پرېکړے
(ص ۱۶۱)

د وصال په تخت به څو ناست ئې حمیده
بنهٔ پوهېږې چې به راشي هجران رو رو
زهٔ حمید د خدائے حمد او ثناء وایم
بل د یار صفت کوم په زبان رو رو
(ص ۱۰۶)

که ثنا صفت ئې تل کوم سلیمه
د دلبره لا مقصر یم نه رسېږم
(ص ۹۹)

د هغهٔ چې عشق منظور په خاص و عام شه
د سلیم غوندې که جان په شرر نیسي
(ص ۱۶۸)

زهٔ محمد صدیق نېک حال یم چې مئین ستا په شنه خال یم
دا رنګ یار په بخت موندهٔ شي چې دا ماوے سخن سنج
تهٔ چې ماته نصیحت کړې ځان دې هېر وي
احمد شاه غوندې به سر وهي په څنګ

د بیاض په دیوان کښې د پردېس او مسافرۍ ډېر ذکر راغلے دے. لکه څنګه چې ورته مونږ وړاندې اشاره کړې ده. مشران وائي چې څۀ د کوټې پناه او څۀ د پناه ۰ خو د پېښور او د کن مسافرۍ ئې کړې ده او کېدے شي چې په نورو ځايونو کښې ئې هم مسافري کړې وي. ځکه چې په مسافرۍ کښې د سپينې ږيرې او بوډا توب ډېر ذکر کړے دے.

"معلومه نۀ ده چې بياض وطن ته بېرته راغلے دے. که نۀ دے البته د دې لاندې شعرونو نه د دۀ پرديس توب او د دۀ د نورو غمونو دردونو حال معلومېدے شي. او چونکې سپين ږير توب په عمر کښې په مسافرۍ دکن ته تلے دے ۰ په دې وجه زياته ممکنه ده. چې هم هلته پاتې شوے وي."

د فلانکي ښکلي په تور نن بې ګناهه
ډکه خونه د بياض تالا غريب شوه
د خپل کور قدر به هله ورله راشي
د بياض په څېر که بل يو پردېسي شي 11

ضياء الله جدون هم پخپل کتاب "شخصيات صوابي" کښې دې پلو اشاره کړې ده لکه :

"ترجمه: بيا زېدے ته راغے او دلته اباد شو. څۀ وخت پورې دکن هند کښې هم پاتې شو."12

د پردېس په بابله ئې ديوان د مسافرۍ د شعرونو نه ډک کړے دے. خو د نمونې په طور به ترېنه يو څو شعرونه راواخلو.

ياره ستا په دروازه کښې راشه ګوره
پرديسې بياض مړ پروت دے که ئې ګورې(۵۹)

پرديسے بياض په رنځ د هجر اومړۀ
د اسمان مرغونه ژاړي پرې غوغا شوه (ص ۱۱۱)

په دا لاره تېرېدم سر مې ور هسک که
مسافر بیاض مې لید په زړهٔ زهیر نن (ص ۱۰۰)

هر ماښام چې که څوک لاس په دعا پورته
پردېسي بیاض دې هم پکښې بیا یاد که

"د دهٔ په ډېرو زیاتو شعرونو کښې د "پردیسي" او "مسافر" لفظونه راغلي دي. د وطن او د وطن یارانو د بېلتانهٔ سوز ناکې بدلې او شعرونه ئې وئیلي دي. او هم دې پردېسي توب د دهٔ په شعرونو کښې د دردناکۍ او سوز تاثیر پیدا کړے دے. د نمونې په طور دا یو شعر ئې لوستلے شو وائي:"

که څوک پېښ شو د وطن په ښو یارانو
د بیاض دعا سلام دې ورته وائي13

د بیاض په شاعرۍ کښې د مسافرۍ او پردېس سره سره د سپینې ږیرې او بوډا توب ذکر هم په اکثرو شعرونو کښې راغلے دے. چرته د کنډاس خُلې او سپینې ږیرې ذکر کوي او چرته د ماتې تیټې او کونتې ملا په ځوانۍ پسې ئې هم ارمان کړے دے. او د زړو هډونو د لاسمه هم په عشق کښې ښهٔ په لړزان شوے دے.

د تاریخ وفات او د مزار شریف ئې هم څهٔ پته نشته. البته دومره ده. چې د ژوند نرمې ګرمې ورځې ئې سرته رسولې دي. او د عمر اخري حصه ئې موندې ده. لکه چې وائي

په پیرۍ کښې شوه ځواني راته رایاده
چې نشت برخاست مې اولید د تندرستو
په پیرۍ کښې د بیاض زاړهٔ هډونه
سره لمبه د عشق په اور لکه وابښهٔ شو

هم په دې رنګ نور هم ډېر اشعار شته چې هغه د بياض صاحب د ضعيف العمرئ ترجماني ده۔ 14

د دې پورتنو شعرونو نه علاوه ئې هم په ديوان کښې په شلګونو داسې شعرونه شته چې په هغې کښې د بوډاتوب ذکر دے او د سپينې ږيرې ذکر ئې اکثر خپل تخلص سره يو ځائے کړے دے۔ لکه څنګه چې ئې د مسافر او پردېسي ذکر د تخلص او مقطعې سره کړ ےدے۔ په عام شعرونو کښې ئې دغه ذکر خال خال مونده شي لکه

شهادت مې په دا سپينه ږيره بيا مونډ
چې حلال په تيغ د سترګو پرې زاد کړم (ص ۹۱)

نور څۀ نۀ وے ما بياض بې د رشتياؤ
ياره تا په سپينه ږيره دروغژن کړم
د بياض د سپينې ږيرې سوال قبول که
درله راغے تيته ملازاړه هډونه (ص ۱۰۱)

مناسب ورسره هېڅ نۀ دي بياضه
چې په سپينه ږيره اخلې خولۀ د ښکلو ( ص ۱۰۵)

داسې معلومېږي چې بياض د ډېر اوږد عمر خاوند وو۔ ځکه چې په ډېرو ګڼو شعرونو کښې ئې د خپل سپين ږير توب ذکر کړے دے۔ ليکن سره د دغه سپين ږيرتوبه په اشعار او غزلو کښې ئې دومره د حد په هور ته شوخې او رنګينې موجوده ده۔ چې يو خوا ته د عبرت او تصيحت مضمون وي۔ او بل خواته د پښتو ژبې د ساده او لطيف طرز د بيان نادره نمونه وي۔ لکه چې د خپل سپين ږيرتوب او عمر په حقله څومره په رنګينئ سره وائي:

غاښ وتلي تيته ملا سترګې تاريکې
بياض ښکلي پسې ګرځې سوال د خُلې کا
سپينه ږيره بياض خولۀ غواړي د ياره

ملامت پرې باندې وايي عالم ځکه (ص ۷۹)

بياض د خپل وخت مروجه علوم حاصل کړي وو. دغه د هغه د کلام نه واضحه معلومېږي. د قرآن، حديث، د مجاز او حقيقت سره سره ئې د الله تعالیٰ او د نبي د محبت او پيروۍ ذکر هم شته دے. د دين حق او د قرآن پاک د تلاوت شعر ونه پکښې موندے شي.

په ډېرو شعرونو کښې ئې د ښوکنو د ميا عمر صيب سره د پيرۍ او مريدۍ ذکر کړے دے. د هغوي نه ئې په چشتيه سلسله کښې بيعت کړے دے. د تصوف د لارې علمبردار دے. او د وحدة الوجود قائل دے. ظاهري او باطني علم ئې حاصل کړے دے. او د فنا فی الله درجې ته رسېدلے دے.

د حضرت محمد(ص) د پيروۍ په حقله وائي او د هغوي په امتي کېدو فخر کوي.

چې ئې شمار کړم زۀ بياض د خپل امته
زۀ په دغې مهربانۍ د رسول ښۀ يم (ص ۸۸)

ما بياض ته کاندئ لاس په دعا پورته
چې په در د محمد رسول داخل شم (ص ۹۰)

زۀ بياض حمد و ثنا وايم درود
چې شفيع مې محمد اخر زمان شو (۱۰٤)

د قبر عذاب هم مني او د هغې نه په الله تعالیٰ سره پناه هم غواړي. په خپلو بدو باندې پښېمانه دے. ځکه چې د انسانانو نه خطا کېږي. که هر څومره ئې د الله تعالیٰ حکم په سر سترګو منلے وي. د تور لحد د تيارو او سختو نه امان غواړي

ربه راکړې ته امان د تور لحده
چې عذاب به پکښې وي تر کومه حده
چې څۀ بد کړي دي ما ماته معلوم دي

ولې ته راته اونهٔ وائې چې بده
ما ستا حکم دے په هر ځهٔ کښې منلے
تهٔ زما خبره چرې نهٔ کړې رده (ص ٥٧)

د قرآن پاک تلاوت ئې خپله وظیفه ګرځولې ده. ځکه چې د دنیا او اخرت کامیابي او کامراني هم په دغه کښې ده. د قرآن په تلاوت او حرفونو لیدو ئې سترګو ته یخ والے رسي. او هم اصل او حقیقي خوشحالي دغه ګڼي.

څو چې دین د محمد بیانوه شي
خوشحالي مې د خاطر کړې عاقبت له
چې حرفونه د قرآن په سترګو ګورم
تر هغه زما ژوندون کړې تلاوت له (ص ٨٤)

د قرآن او د درود تاثیر ته ګوره
چې زهٔ خاورې غونډې خوښ ستا په جناب شوم
کړم ستا پټه مشغوله په زړهٔ رایاده
چې راپورته نیمې شپې له خوارهٔ خواب شوم

هسې خو د تصوف دوه غټې نظرې دي وحدة الوجود او وحدة الشهود خو بیاض په تصوف کښې د وحدة الوجود د نظرې قائل دے. ا د چشتیه سلسلې مسلک لري.

"د دې قسم نه نور هم ډېر اشعار په کتاب کښې شته دے چې هغه د بیاض صاحب په روحاني کمالاتو او په وقوف د اسرارو د وحدة الوجود دلالت کوي.
" (ص ١٢)

مرتبه د چشتیت به هله راشي
زما زړهٔ که ته یو ځله کړې مقتوله
په زیارت ئې منجور کښینه بیاضه

چې دې برخه کمه نشي د معموله (ص ۸٦)

د وصال وعده یار کړې د کال پس ده
راښکاره په باطن علم عنقریب شوه (۱۲٦)

په څلور واړه طرفه چې نظر کړم
مخ د یار دے مخ د یار دے مخ د یار دے ( ۱٦۳)

توجه ده ظاهراً په بیاض شوې
چې زیارت له په باطنو د خپل پیر لاړ (۷۳)

د غفلت د خوبه زر پاسه بیاضه
صاف په نفې په اثبات باندې ګوګل کړه (ص ۷۱)

پیر طریقت ئې د څوکنو میا عمر صېب وو. د هغوي ذکر ئې په کلام کښې په کثرت سره کړے دے. علي خان هم د څوکنو د میا صېب مرید پاتې شوے دے. او د محمدي صاحبزاده ذکر ئې هم کړے دے. دغه ذکر وروستو د علي خان او بیاض د کلام په توارد او په یو بل د هغې اثر کښې راشي. خو د میا صېب په مریدۍ باندې فخر کوي.

بیاض د څوکنو د میا صاحب محمد عمر علیه الرحمة مرید دے. او په ګنو شعرونو کښې ئې دې خبرې ته اشاره کړې ده . لکه چې وائي:

چې صاحب د څوکنو را مدد نه دے
ستا زما تر مېنځه ورک فساد که چا
زۀ بیاض خاصه غلام د میا صاحب یم
دامن ګیر ئې په دنیا هم په قیامت یم
ډېر تعظیم تسلیم پکښې وښکه بیاضه
په زیارت د میا صاحب چې دا غزل لاړ

خو چې نوم د میا عمر صاحب څوک واخلي
هغه لور ته زۀ بیاض لاس په سلام یم (ص ۸۰ - ۸۱ )

د بیاض صاحب په دیوان کښې چې څومره ډېر ذکر د پردېس او مسافرۍ راغلے دے. دغه هومره ذکر ئې د خپل پیر طریقت میا محمد عمر صاحب هم کړے دے. او د خپل پیر په رهنمایۍ کښې د تصوف د مختلفومرحلو نه راتېر شوے دے.

څوکنو صاحب علیه الرحمة ئې پیر طریقت وۀ په موجوده کتاب کښې د څوکنو صاحب ډېر ځایه ذکر راغلے دے. او د څوکنو صاحب د وفات یو درې درمندې مرثیې ئې دوه د هغې نه مخمسې دي. په دې کتاب کښې شته دے. او د بیاض صاحب په زخمي زړۀ ګواهي ورکوي. د بیعت متعلق ئې وئیلي دي.

غم به نۀ وي د بیاض تر مرګه پورې
چې مرید د میا صاحب د څوکني شه ( ص ۱۲)

د دغه پورته ذکر شوو شعرونو نه علاوه ئې په دیوان کښې په دې حقله نور هم ډېر څۀ وئیلي دي دوه درې مخمسې مرثیې ئې هم د خپل پیر میا عمر صېب د وراۀ میا محمد سعید باز ګل په مرګ او فراق کښې وئیلي دي. چې ډېر لوے تاریخي دستاویز دے. د هغه د مرګ ټول مال احوال ئې پکښې بیان کړے دے. او په دغه مرثیو کښې ئې د هغۀ د مړینې ورځ یعنې د اتبار (اتوار) ورځ، د شبقدر شپاړسمه نېټه او کال دولس سوه ذکر کړے دے. مطلب دادے چې بیاض صاحب د دې نه وروستو هم ژوندے وو. خو څۀ پته ئې نۀ لګي.

"نو د دې شعر نه د بیاض زمانه معلومېدے شي. چې د ۱۲۰۰هـ د اخرینۍ حصې سرے دے. دغه شان بیاض یوه قصیده او دوه مخمسونو کښې د میا صاحب محمد عمر د کشر ورور میا محمد موسیٰ د مشرې زوې چې میا محمد سعید باز ګل نوم ئې وو. د دې باز ګل د وفات مرثیه او قطعه د تاریخ ئې لیکلې ده. چې باز ګل په ۱۲۰۰ هـ کښې په حق رسېدلے دے لکه چې وائي:

په سن د زر او دوه سوه دا غم وو
ورځ اتبار او د شبقدر شپاړم وو
بېلتانهٔ چې راپېښ کړے دا ورهم وو
ځاے په زړهٔ کښې مې د غم کله د زغم وو
باز ګل چې د جنازې په اس نن سور ځي (ص ۸۱ - ۸۲)

په ديوان کښې ئې د غزلو او دوه درې مخمسو مرثيو نه پرته ځاے په ځاے رباعيات هم شته. خو دغه رباعيانې ئې غزلونو کښې ګډې وډې ليکلې دي. چې عام قاري ته ئې پېژندګلو ګرانه ده. رباعي ليکل د پوخ عمر او پوره شاعر کار دے. ځکه چې په دې کښې د عمر تجربې بيانېږي. لکه:

ډېر پېغورونه ډېرې خبرې شوې
راپسې ځکه د غم لښکرې شوې
عمر مې ګوره جوړ په جهنم کښې شه
ښهٔ له بياض چې نزدې لرې شوې

جدائي راغله اشنا سلام دې وي
مبارک کلے کور او ستا مقام دې وي
که لاړو لاړو بياض ترې لاړو
بيا راته بېرته په ما حرام دې وي (ص ۱۳۸)

په يوه رباعۍ کښې خو ئې د وخت ذکر هم کړے دے. چې په مازيګر کښې ئې ليکلې ده.

ږيره مې سپينه د بل په در کښې شوه
راستي مې جمع د زړهٔ په سر کښې شوه
د بياض اوښکې په مخ رودونه تله
داړباعي چې په مازيګر کښې شوه

## ماخذونه


۱: دیوانِ بیاض، مؤلفه محمد ایوب صاحب، پېښور، جهانزېب پرېس، ۱۹۵۸ء ، مخ ۱۰ - ۹.
۲: اثر افغاني، قاضي عبدالحلیم، تېر هېر شاعران، پبلک ارټ پرېس، پېښور، ۱۹۶۳ء ، مخ ۷۷- ۷۸ .
۳: حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، علي خان ژوند، فن، فکر او دیوان، چارسده،پښتونخوا مطالعاتي مرکز، باچا خان پوهنتون ، ۲۰۱۵ء، مخ ۲۲۳.
۴: جدون، ضیاءالله، شخصیات صوابي، پشاور،جدون پرنټنګ پرېس ، ۲۰۱۴، مخ ۱۷۲.
۵: حسرت، محمد زبېر، ډاکټر، علي خان ژوند، فن، فکر او دیوان. مخ ۲۲۳ - ۲۲۴.
۶: جدون، ضیاء الله، شخصیات صوابي (دیوان، ص ۲۷۱)
۷: جدون، ضیاء الله، تاریخ وادي ګدون، پېښور، جدون پرنټنګ پرېس، ۲۰۱۰ء، مخ ۴۰.
۸: هم دغه اثر، مخ ۳۹
۹: هم دغه اثر، مخ ۲۴۴
۱۰: دیوانِ بیاض، مخ ۹
۱۱: تېر هېر شاعران، مخ ۸۳.
۱۲: شخصیات صوابي، مخ ۱۷۲.
۱۳: تېر هېر شاعران، مخ۷۸.
۱۴: دیوانِ بیاض، ص ۱۲ - ۱۳.